

د سولې رامنځته کولو منځګړی؟

# د افغانستان د سولې په پروسه کې
# د ترکیې رول او اهمیت

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH
EBERT
STIFTUNG

د دغې پالیسۍ نچوړ( لنډیز)، د امریکايي پوځي ځواکونو د وتلو ماهیت او پر ملي او سیمه ییز امنیت د هغه د اغېزو ابهام په ترڅ کې، د ترکیې او افغانستان دوه اړخیزې اړیکې څرګندوي. د یادې پالیسي لنډیز، په خپل ختیځ ګاونډ کې د انقرې ګټې او د پالیسي مسیرونه په ډاګه کوي او د دغې موضوع ارزونه کوي، چې ترکیې سره د دې چې د افغانستان د سولې په پروسه کې بې د یوه باوري او طبیعي منځګړي په توګه هرکلی کېږي، لا هم نه دی توانېدلی چې په دې برخه کې یوه روښانه او مشخصه ستراتیژي وړاندې کړي. پر دې سربېره؛ د کډوالي په اړه پر ګډو اندېښنو د تمرکز ترڅنګ، د پالیسي دا لنډه څېړنه د افغانستان او اروپایي ټولنې ترمنځ د لا زیاتو همکاریو د بالقوه امکاناتو او ظرفیتونو څېړنه کوي.

ترکیې د افغانستان د تاریخي متحد او د اووم ستر هېواد په توګه چې ځواکونه یې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې په دې هېواد کې فعالیت لري په ډېره پراخه او څو اړخیزه بڼه افغانستان کی مشارکت لرلی دی[1]. ترکیه له افغانستان سره ژورې فرهنګي او ژبنې اړیکې لري؛ ځکه چې د افغانستان د پام وړ سلنه وګړي له قومي لحاظه ترک توکم دي. په لومړۍ نړیواله جګړه کې له عثماني امپراتورۍ څخه د کابل د ملاتړ پرېکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ او اړیکو بنسټ کېښود چې لا هم د مارچ ۱ نېټه، د ترکیې - افغانستان د دوستۍ ورځ په نامه لمانځل کېږي. په ۱۹۳۰ لسیزه کې، انقرې د افغان پوځیانو په روزلو او د پرمختیایي کارپوهانو په لېږلو سره، د افغانستان د عصري کېدو له اقداماتو څخه ملاتړ وکړ. ترکیې، په ۱۹۷۹ ز. کال کې پر افغانستان د شوروي له یرغل سره په ښکاره مخالفت وکړ او د کورنیو جګړو د اوږدو په ترڅ کې یې، د شمال اتحاد، د ازبک قومي مشرانو په ځانګړې توګه حزب جنبش اسلامی مشر عبدالرشید دوستم څخه، چې پر افغانستان د طالبانو تر ولکې وروسته ترکیې ته وتښتېد، ملاتړ وکړ. ترکیه لومړنی مسلمان هېواد و، چې د ۲۰۰۱ز. په نومبر کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې پوځي عملیاتو سره یوځای شو او اوسمهال د کابل د ښوونېز، مشاورت او همکارۍ مسؤلیت(بولندویې) پرغاړه لري. انقره؛ د ناټو د نورو هېوادونو پرخلاف، دې ته لېوالتیا لري، چې په افغانستان کې خپل رول ته دوام ورکړي.

په همدې حال، تراوسه پر دې نه دی توانېدلې چې د ولسمشر اردوغان د ۲۰۱۵ ز. کال د دې وینا «چې د افغانستان ستونزې زموږ ستونزې دي او د افغانستان بریا زموږ بریا ده»، یو روښانه پالیسي وړاندې کړي[2].

## په افغانستان کې د ترکیې د څو اړخیز سیاست تعامل

افغانستان په تړاو د انقرې بهرني سیاست د څلورو موخو پر محور راڅرخېږي: ۱) د دغه هېواد د ثبات او وحدت ساتنه؛ ۲) د موجودو سیاسي جوړښتونو او بنسټونو پیاوړتیا؛ ۳) د افغانستان د امنیتي چاپېریال د ثبات ملاتړ؛ او ٤) د ترورېزم او تونډلاریتوب په له منځه وړلو سره، د سولې او هوساینې ټینګښت[3]. ترکیه د ملګرو ملتونو سازمان او د ناټو له لارې په دوه اړخیزه کچه، افغانستان سره د پام وړ مرسته کوي. انقرې له ۲۰۰۱ز. کال راهیسې په دغه هېواد کې د امنیت، روغتیا، پوهنې او زېربناوو په برخو کې شاخوا ۱،۱ میلیارد امریکایي ډالرو پانګونه کړې ده[4]. ترکیې د ۲۰۱۹ ز. کال تر مي پورې د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام - یو. ان. ډي. پي تر څارنې لاندې د نظم او قانون د وجهي صندوق له لارې د افغانستان له ملي او امنیتي دفاعي ځواکونو سره د شاوخوا ۸۶ میلیونو ډالرو مرسته کړې ده[5]. ترکېه د نورو مرسته کوونکو هېوادونو په شان په تدریجي توګه خپلې مرستې راټیټوي همدارنګه د ۲۰۲۰ ز. کال په جینوا کنفرانس کې د دوو راتلونکو کالونو لپاره د ترکیې ۷۵ میلیون ډالرو د مرستې ژمنه د ۲۰۱۸ - ۲۰۲۰ (تیرو دوو کالونو پر تله) د۱۵۰ ملیون ډالرو د ژمنې یوازی نیمایي برخه جوړوي[6]. د ترکیې چارواکي وړاندوینه کوي، چې د مالي مرستو دغه کچه کېدای شي وساتل شي او د سیاسي هوکړې د ترلاسه کېدو په صورت کې کېدای ، ان زیاتوالي ومومي.

له ۲۰۲۱ ز. کال څخه وروسته افغانستان کې، د ترکیې د پالیسي اساسي لومړیتوب د دې هېواد د ثبات ساتنه جوړوي، چې هغه د تونډلارو ډلو د فعالیتونو غځېدنې په اړه له ځانګړو اندېښنو سره نغښتې ده. دې هېواد د تېرې لسیزې په نیمایي کې په «اسلامي دولت» نومول شوې داعش ډلې له خوا ډېر ترورېستي بریدونه زغملي دي؛ چې د تونډلاریتوب له ګواښ او له سورېې او ګرځې نړۍ څخه د میلیونونو پناه وړونکو او کارګرو له کډوالیز یرغل او یوه دوره هم د پراښستو پولو له څو نښتو سره مخامخ شو. د ترکیې او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ ژورې تعاملي او سوداګریزې اړیکې، سیمه ییز ترورېزم پورې د اړوندو اندېښنو په محدودولو سره، په ازاده توګه په پانګونه باندی ولاړې دي؛ په دې توګه په افغانستان کې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې د دغه هېواد ونډه، د دغو پانګونو په تړاو یوه نامستقیمه بیمه ګڼل کېږي. او د هغوی اندېښنې د نړیوالې ترهګرۍ له اندېښنو سره چې په دی هیواد کې د ناټو د نورو غړو پاتې کېدو لپاره د انګیزې لامل ګرځي ورته والی او شباهت لري.

د ترکیې د یو شمېر مخکښه پالیسۍ جوړوونکو په وینا، انقره بنایي بی لدې چې خپلې راتلونکې تعامل په وړاندی د ناټو دریځ په پام کې ونیسي، تر ۲۰۲۰ ز. کال وروسته هم ( افغانستان په تړاو) خپلو مالي ژمنو ته دوام ورکړي. د ناټو شاتګ ته په پام سره، ترکیه کېدای شي په دې هېواد د خپل پوځي حضور د غځېدا مسله وڅېړي. خو دلته دغه پوښتنه مطرحه ده، چې د ناټو له شریکانو پرته د دغه هېواد پوځي دوام په افغانستان کې عملي ده؟ په هر حال ترکیه، د افغانستان په سیاسي شرایطو کې خپلې اصلي ګټې لري او په دې

۱ - ونیا کورا(۲۰۱۷)«ترکیه په افغانستان کی پراختیایی نقش لري »د مډل ایست انسټېټوټ ۲۰۱۷ د سپتمبر ۲٦ مه.

۲ - ویناي کاورا (۲۰۱۷)، «ترکیه په افغانستان کې خپله ونډه پراخوي»، د منځني ختیځ انستیتوت، سپتمبر ۲٦ ، ۲۰۱۷ز.

۳- وګورئ، د ترکیې جمهوریت، د بهرنیو چارو وزارت وېبپاڼه.

۴- «ترکیې د پروژو لپاره افغانستان سره د ۷۵ میلیون ډالرو مرسته کوي»، د صباح ورځپاڼه، د نومبر ۲۵، ۲۰۲۰.

۵ - د افغانستان د ملي دفاعي ځواکونو وجهي صندوق، مي ۲۰۱۹.

٦ - «ترکیه د پروژو لپاره افغانستان سره د ۷۵ میلیون ډالرو مرسته کوي»، د صباح ورځپاڼه، د نومبر ۲۵، ۲۰۲۰.

ده؟ په هر حال ترکيه، د افغانستان په سياسي شرايطو کې خپلې اصلي ګټې لري او په دې وروستيو کې په ليبيا او سوريه کې د ترکيې يوه اړخيزه مداخله او له سيمه ييزو ځواکونو سره مرسته، کولی شي په افغانستان کې د راتلونکي امنيتي مرستو لپاره يوه بېلګه وي[7].

## د سولې په روان بهير کې د ترکيې دريځ: يوازې په نوم يو ايډيال لوبغاړى؟

داسې ښکاري چې د ترکيې پاليسي جوړونکي، د سولې پروسې په اړه چې د متحده ايالاتو له خوا پيل شوې ده، په احتياطمنه توګه خوشبين دي، خو په دې برخه کې يو لړ شکونه او ترديدونه هم لري. يو شمېر چارواکو، د هر ډول بنسټيزې روغې جوړې په تړاو د طالبانو د لېوالتيا په اړه جدي اندېښنې بيان کړي او په دې اړه دغه پوښتنه هم شتون لري، چې آيا نړيواله ټولنه او افغان دولت سولی بهير ته غاړې اېښودلو او منلو کار کې د طالبانو تر فشار لاندې راوستلو لازمه او کافي وړتيا لري او کنه؟ ترکيه په مستقيمه توګه له طالبانو سره اړيکه لري، خو د سولې په پروسه کې اصلي کړنه يې، د بيانيو او اعلاميو خپرول او د افغان دولت دځواکمنولو نښې نښانی ښرګندوي. دا چې دا موضوع ايا د زياترو اقتصادي او سياسي مسايلو په خاطر د انقرې د پام وړ وي او يا د ترکيې متحد د قطر په څېر د نورو منځګړو اهميت له امله، داسې نه ښکاري، چې ترکيه د افغان سولې په پروسه کې د داسې رول اداکولو په لټه کې وي، کوم چې يې د سوريې په اړه د استانې په پروسه کې ترسره کړ. دې سره سره د يادونې وړ ده، که څه هم په تېره لسيزه کې د ترکيې او متحده ايالاتو ترمنځ په دوه اړخيزی اړيکې ترينګلی وې ، د ۲۰۲۰ ز. کال په وروستيو کې، د سولې په برخه کې د متحده ايالاتو ځانګړی استازي زلمي خليلزاد څو ځلې له ترکيې څخه ليدنه وکړه او په دې برخه کې په پرلپسې توګه همغږئ رامنځ ته شوې.

له اسلام آباد، دوحې او کابل سره د ترکيې ډاډمنې اړيکې او په ناتو کې له غړيتوب سره سره له مسکو سره ټيکاومنی او پايداره اړيکی، ترکيې ته يو مناسب او اغېزلرونکي موقعيت ورپه برخه کوي؛ او د افغانستان د نورو پوله شريکو ګاونډيو برخلاف، افغانستان سره يې دوه اړخيزه، اړيکې د ځمکني يا د نورو اختلافونو تر سيوري لاندې نه دي. په واقعيت کې ترکيه ادعا کوي، چې له هغو ګوتو په شمار - کمو هېوادونو څخه دي، چې په افغانستان کې کار کوي او په دې برخه کې هېڅ ډول پټه برنامه «ستره لوبه» نه لري. له تېرو دوه لسيزو راهيسې د افغانستان په خاوره کې د ترکي پوځيانو شتون له دې امله د خلکو پام وړ دي، چې دا هېواد د اسلامي همکاريو سازمان فعال غړی هم دي. ترکيه کولی شي د دغه سازمان او ناټو د فعال غړي په توګه، د افغانستان د ګاونډيانو او نړيوالو شريکانو ترمنځ د باور پل په توګه عمل وکړي. ټول افغانان، د دواړو هېوادونو د ګډو فرهنګي زمينو په دليل چې اکثريت وګړي يې مسلمان دي او په ترکي او سيمه ييزو ژبو د ګډو اصطلاحاتو د شتوالي له امله يې ښوونې په برخو کې د ترکي د ولسي ځواکونو مثبت هرکلی کړی دی. د ناټو د نورو غړو هېوادونو برخلاف، په تېرو ۱۹ کالونو کې د ترکيې يوازې يو چارواکي په افغانستان کې د طالبانو د هدفي بريدونو په پايله کې وژل شوی دی[8]. د اسلامي حزب مشر ګلبدين حکمتيار د ۲۰۲۰ز. کال په فبروري کې په ښکاره اعلان وکړ، چې ترکيه بايد د ناټو د غړي په توګه د جرمني پرځای، د بين الافغاني خبرو کوربه وي او د فرانسې له ولسمشر امانول مکرون سره د اردوغان د ټکر پرمهال يې، په ښکاره له اردوغان څخه خپل ملاتړ اعلان کړ[9].

ترکيې، په تېرو وختونو کې هم د افغانستان او ګاونډيانو ترمنځ په لانجو کې، په ځانګړې توګه په ۱۹٦۰ ز. کال کې د افغانستان او ايران ترمنځ د سرحدي اختلافاتو په اوارې کې، د منځګړي په توګه خپل رول ادا کړې دی؛. ترکيې په تېرو دوو لسيزو کې، له پاکستان، افغان دولت او ان (په پټه) له طالبانو سره خپلو ډيپلوماتيکو اړيکو کې پانګونې ته دوام ورکړی دی. انقرې په برياليتوب سره د تاوتريخوالي کمولو لپاره په يوه درې اړخيزه هڅه کې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د څو ناستو کوربه و او د طالبانو له مشرتابه سره يې مستقيمې اړيکې ټينګې کړې، چې په ۲۰۱۰ز. کال کې په لنډ ډول په انقره کې په دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانېستل کېدو په اړه خبرې وشوې[10]. د افغانستان د مصالحې د عالي شورا رييس عبدالله عبدالله، د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې انقرې ته د خپل سفر پرمهال، د افغانستان او پاکستان د اړيکو په پراختيا او ښه والي کې د انقرې پر حياتي رول ټينګار وکړ. د افغانستان زياتره سياسي مشران، د طالبانو تاريخي کوربه او ملاتړ هېواد پاکستان، د د ستونځو د حل او فصل او د تلپاتي سولې د ټينګښت کلي ګڼي او هيله لري، چې ترکيه دې په دې برخه کې پر اسلام اباد د فشار له اهرم څخه ګټه واخلي. په همدې حال کې، ترکيی په تېره لسيزه کې د افغانستان په شمال کې د قومي ټولنې له مشرانو سره په ځانګړې توګه عبدالرشيد دوستم سره، چې په منظم ډول په ترکيه کې اوسېده (لومړی پر ۲۰۰۹ او بيا له ۲۰۱۵ تر ۲۰۱۷) خپلې اړيکې ټينګې کړې دي. له دې سره سره، د ترکيې اړيکې په دوديزه توګه تر قومي تړلتياو هاخوا پراختيا مومي. په دې توګه په تېرو کلونو کې لکه حکمتيار په څېر يو مخالف سياسي څېرې نورو لويو سياستوالو هم له ترکيې څخه ليدنه کړې ده.

ترکيې تر اوسه پورې د ځينو افغان مشرانو انتظاراتو ته رسيدګی نه ده کړي، چې هيله لري، دغه هېواد د افغانستان په تړاو تر دې هم فعاله ونډه ادا کړي. په واقعيت کې انقرې، د اروپايي ټولنې او د افغانستان د څو ګاونډيو هېوادونو برخلاف، تراوسه پورې د سولې په بهير کې برخې اخيستو لپاره کوم ځانګړی استازی ګمارلی نه ده او نه يې هم د افغانستان له سياسي شخصيتونو سره اړيکې لرلې، چې دغه چاره له افغان دولت سره او يا نړيوال ملاتړ عمومی شبکی سره چې په دوحه کې راټول شوي، د مشخصو اقداماتو په مانا تعبير شوی دي. دغه چاره کېدای شي، د انقرې مهمو سيمه ييزو ننګونو او کورني متزلزله اقتصادي فضا او سياسي لانجو ته په کتو سره، دا مسئله کېدی شي تر يوه بريده د اړوند هوکړی د ناپراخوالي له امله وي. خو د ترکيې په بهرني سياست کې حتا په ډېرو مساعدو حالاتو کې هم د اصلي لومړيتوب په توګه هيڅکله د افغانستان ملاتړ ته ځای نه دی ورکړی او په دې برخه کې کومی لوړې هيلې پلې شوي نه دي.

## په استانبول کې د اسيا زړه پروسه: آيا نويو سيمه ييزو ميکانيزمونو ته اړتيا شته؟

په افغانستان کې د جګړې او نښتو په وروستيو لسيزو کې نړيوالو قدرتونو له خوا ، له دې ډلې ۲+٦ (په متحده ايالاتو او روسيې سربېره د افغانستان ګاونډيان) او د څلور اړخيزی همغږۍ د ډلې (افغانستان، پاکستان، چين او متحده ايالاتو) په ګډون، د سيمه ييز نوښتونو څو طرحې رامنځته شوي دي. له طالبانوسره د متحده ايالاتو د خبرو له پيلېدو دوه کاله وروسته، د روانی سولې بهير په خاطر څو ناستې او مخامخ خبرې شوې دي. په داسې حال کې چې په دغو نويو طرحو او نوښتونو کې د نړېوالو ښرګندونو او د افغانستان د سولې له پروسې څخه د ملاتړ زمينه برابره شوې ده، خو دغه نوښتونه په دې برخه کې کوم ملموس اقدام او لاسته راوړنه نه لري. د افغانستان د سولې له پروسې څخه د ملاتړ لپاره لا تر اوسه کوم يوه موټی او متحد سيمه ييز ميکانيزم شتون نه لري، په ځانګړې توګه د سيمې مهمو لوبغاړو (هېوادونو) لکه ايران، هند، روسيې او په خپله ترکيې سره اړيکو ته په کتو ، د متحده ايالاتو وضعيت يې اندېښنو سره مخامخ کړی دی[11].

د استانبول - اسيا زړه پروسه، چې په ۲۰۱۱ ز. کال پيل شوې، تر اوسمهاله تر ټولو پراخه طرحه او عملی نوښت دی، چې په دې پروسه پر ۱۵ ملاتړو هېوادونو او نړيوالو سازمانونو سربېره د اروپايي ټولنې په ګډون ، ۱۷ سيمه‌ييز هيوادونه برخه لري. دغه پروسه، چې د افغانستان په محوريت، د سيمه ييز امنيت او اقتصادي او سياسي همکاريو د پرمختيا په موخه[12]، د خبرو او باور جوړونې اقداماتو له لارې، د کابل او انقرې له خوا جوړ شوی دی. د سيمه ييزو همغږيو او باور جوړونې په موخه ، د اسيا زړه پروسې د ارتقا

۷ - د سوريې اجيران د ترکيې د بهرني سياست ساتنه کوي، دويچه وله، ۳۰ سپتمبر ۲۰۲۰.

۸ - د ترکيې د سفارت پر موټر ناستو د بريد له امله، يو ترکي سرتيري ووژل شو، آسوشيتدپرس ، د فبروري ۲٦ مه ۲۰۱۵ ز.کال.

۹ - "حکميتار، د ترکيې پر وړاندې د ماکرون خبرې د نه منلو وړ دي، انډولا خبري آژانس، د سپتمبر ۱۱ مه ۲۰۲۰.

۱۰- اياز ګل، (۲۰۱۹) ، "د افغانستان د سولې په تړاو ترکيې د درېو اړخيزو ناستو کوربه" ، امريکا غږ، د جنوري ۴ مه ۲۰۱۹ ز. کال.

لپاره له ژمنو سره سره، منتقدين وايي، چې د اسيا زره پروسه سره له دې چې له رامنځته کېدو څخه يې يوه لسيزه تېرېږي، يوازې اعلاميه صادره کړې، چې هېڅکله عملي شوې نه ده. آيا د اروپايي ټولنې او ترکيې يوه ګډه طرحه کولی شي، د افغانستان د خبرو لپاره يو نوی سيمه ييز ميکانيزم له رامنځته کېدو سره مرسته کوي؟

## آيا د اروپايي ټولنې او ترکيې ترمنځ د همکاريو ګډ ټکی(ګډه فضا) شتون لري؟

کله چې ۲۰۲۱ ز. کال څخه وروسته افغانستان کې سياسي ثبات او اقتصادي پرمختيا په اړه خبرې کېږي، ترکيه او اروپايي ټولنه به (کولی شي) په لاندې برخو کې ګډه همکاري ولري: له ترورېزم او له پولو هاخوا جرمونو سره مبارزه، روغتيا، کډوالي او روزنه. په افغانستان کې د روغتيا په برخه او همدارنګه د خصوصي سکتور په برخه کې د ترکيې پانګونه د پام وړ ده. د ترکيې هڅې د افغانستان په ټولو برخو کې د روزنې او ښوونې په برخه کې بله مهمه موضوع ده. د ترکيې دولت او د دغه هېواد غيرانتفاعي موسسې په ۱۷ برخو کې ښوونځي مديريت کوي، چې له ۳۰ – ۴۰ پورې ښوونځي کېږي، چې تر ۵۰۰۰ زيات زده کوونکي لري، دوی هوډ لري، دغه هڅې او فعاليتونه نور هم پراخ کړي دغه هڅې د ښځو روزنې ته هم دوام ورکوي: انقره په کابل کې د افغان – ترک ښځينه پوهنتون د پرانېستو په تړاو له کابل سره په خبرو بوخت دی[۱۳].

هغه ګډه ننګونه چې افغانستان کې د اروپايي ټولنې او ترکيې پاليسی ته جوله ورکوي کډوالی ده. افغانان دا مهال، په ترکيه کې د مېشت کډوالو زيات وګړيزه دويمه ډله جوړوي او په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو کې د يونان په جزايرو کې د وارد شويو کډوالو تر ټولو زياته برخه جوړوله. په وروستيو کلونو کې په ځانګړې توګه ۲۰۱۵ ز، کال څخه وروسته، د افغان پناه غوښتونکو په تړاو د اروپايي ټولنې لېوالتيا کمه شوې او د کډوالو د منل کېدو کچه هم ټيټه شوې ده. بروکسل په بې ساري توګه له ترانزيټ هېوادونو سره اړيکه ټينګه کړې، ترڅو د ځو هېوادونو کډوال په ترکيه کې تم وساتي. دغه هېواد اوسمهال د کډوالو په تمځای بدل شوی دی، چې کولی شي د اروپايي ټولنې او ترکيې اړيکه هم کمرنګه کړي. دغه چاره پر هغو افغانانو هم اغېزه کوي، چې په ترکيه کې اوسي. داسې ښکاري، هغې اعلامېې نه په پام سره، چې د کابل او بروکسل ترمنځ د کډوالي د همکاريو په تړاو صادره شوې، دا دريځ به دوام ومومي[۱۴].

د دغو پاليسيو تېر ته په کتو سره، اروپايي ټولنه او ترکيه د ۲۰۱٦ ز. کال په مارچ کې هوکړه وکړه، چې دغه (ترکيه) هېواد به د يونان سواحلو ته وروستي ورودي لارې تړي. په بدل کې د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو ژمنه وکړه، چې ترکيه د بېرته ستنېدونکي هر سوري وګړي پر سر يو سوري وګړي قبلوي او همدارنګه د ترکيې وګړو لپاره د ازاد ويزې لرې چټکه کوي او د کډوالو د منلو په پار ترکيې ته د خپلو مرستو کچه ٦ ميليارد يورو




سرچينه: UNHCR

اروپا ته تلونکي افغانان

سرچينه: Eurostat Database




۱۱ - ګو کوپولو، (۲۰۲۱) ، "د بايدن په واکمنۍ کې، د متحده ايالاتو او ترکيې اړيکې له ظريفانه انډول سره مخ کېږي " ، المانيتور، د جنورۍ ۲۰ مه ۲۰۲۱ ز. کال.
۱۲ - د نورو جزيياتو لپاره، د اسيا زړه ويبپاڼې ته مراجعه وکړئ.
۱۳ - وګورئ: د جمهوري ورځ د اکتوبر ۲۹، د ترکيې سفير وينا، په کابل کې د ترکيې سفارت، ۳۰ سپتمبر، ۲۰۱۹.
۱۴ "EU: Renewed deportation agreement with Afghanistan close to approval" ، ستيټ واچ، ۱۴ جنوري، ۲۰۲۱.
۱۵- اروپا او ترکيې معامله: له کډوالو سره مرسته وکړئ، د اپريل ۵- ۲۰۱۸. هـ (https://helprefugees.org/news/eu-turkey-deal-explained/)
۱٦ - ليزا ليګتاس او جيسکا ټي، (۲۰۱۸)،"You Cannot Exist in This Place: Lack of Registration Denies Afghan Refugees Protection in Turkey", نړيوال مهاجرت، د دسمبر ۱۳، ۲۰۱۸ز.کال.

ته لوړوي . هغه افغانان، چې په لومړي پړاو کې، د پناه غوښتونکي په توګه د نوملیکنې لپاره له ننګونې سره مخ دي، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او مسلکي زده کړو او بیا مېشتېدلو څخه بې برخه شوي دي . زرګونه کسان د کوم سند او مدرک له درلودلو پرته، د نیونې، توقیف او ایستلو له دایمي ګواښ سره مخ دي. چارواکي باید دا هڅې وکړي، اروپایي ټولنه او ترکیه د افغان کډوالو په تړاو د خپل ۲۰۱۶ ز. کال پر هوکړه لیکونو بیاکتنه وکړي. وړاندوینه کېږي، د بې ثباتۍ، پرمختیا او امنیت د نشتوالی له امله افغانان دې ته مجبور شي، چې خپل هېواد پرېږدي، دواړه؛ اروپایي ټولنه او ترکیه باید د کډوالو په تړاو د خپلې همغږۍ پر چارو بیاکتنه وکړي او په دې توګه د افغانستان شرایط، چې په نړۍ کې تر ټولو مرګونې او د جګړې سیمه ده، په پام کې ونیسي.

په افغانستان کې د ګډو ګټو له درلودلو سره سره، داسې ښکاري چې، د ترکیې او اروپایي ټولنې ترمنځ په لوړه کچه، د افغانستان د کډوالي او د سولې پروسې یا د راتلونکې پرمختیا په تړاو د کتو وړ همغږۍ شتون نه لري. په داسې حال کې، چې د ګډ اقدام دغه نشتوالی، نه شي کېدای د دواړو لورو د بحث وړ اجنډ نه بهر وي، خو د امریکا بالقوه وتل، چې له افغانستانه د ناټو د وتلو لامل کېږي هم، په افغانستان کې د اروپا او ترکیې ظرفیت محدودوي، باید دواړه په دې لټه کې وي، ترڅو د همغږي میکانیزمونه او بدیل پلټ فورومونه رامنځته کړي.

## وړاندیزونه:

- ترکیه او اروپایي ټولنه باید د جوړښتونو په ځانګړې توګه د روغتیا او روزنې په برخه کې خپلو ژمنو ته دوام ورکړي او د کډوالي کچې د راټیټولو په موخه د امکان په صورت کې له ایران او پاکستان سره په نږدې همغږي سره، په دغه هېواد له تلپاتې او باثباته اقتصادي ودې څخه ملاتړ وکړي.

- اروپایي ټولنه، غړي هېوادونه یې او ترکیه په افغانستان کې خپلو ګډو ګټو ته په پام سره، په دغه هېواد کې خپلو پوځي او ناپوځي هڅو د همغږولو په موخه باید د ناټو له چوکاټه بهر موجودو شبکو(کانالونو) څخه کار واخلي. اړوند اقداماتو له دوام ورکولو مخکی، په سنجیده همغږی سره کولای شي ، د متحده ایالاتو لابی کولو او د افغانستان نظامی او سیاسی سخت دریځیو کی د نرمښتوالی زمینو رامنځ ته کولو په خاطر ستره ځواکمنی رامنځ ته شي.

- اروپایي ټولنه او ترکیه د استانبول د اسیا زړه طرحه، باید له اوسني وضعیت څخه چې یوازې سمبولیکه بڼه لري، په یو اغیزناک عمل محوره میکانیزم بدل کړي، یا یو نوی سیمه ییز بستر (پلېټفورم،) چې د افغانستان د سولې په پروسه کې د سیمه ییزو ګټو لرونکي لورې په کښې شامل وي، رامنځته کړي. په ایډیال حالت کې، دغه مسئله کېدای شي د امریکا له نوي دولت سره په همغږۍ کې ترسره شي، خو په دې پلتفورم کې د امریکا له برلاسي پرته، سیمه ییز لوبغاړو ته، چې ښایي له امریکا سره خصمانه اړیکې لري یوه بشپړ فضا چمتو کېږي. له هغه ځایه، چې په دې وروستیو کې د هند او ترکیې ترمنځ اړیکې خرابې شوې، نو د اروپایي ټولنې منځګړیتوب په دې برخه کې ګټور تمامېدای شي.

- ترکیه باید له اروپایي ټولنې سره د افغانانو لپاره د کډوالي د یوې هر اړخیزې او جامع پالیسي په تدوینولو کې همکاري وکړي، چې د پام وړ دغه پالیسي په مناسبه توګه بشرپالو اړتیاوو ته رسېدنه وکړي، او ربښتیني خطرونه او ګواښونه په هغو سیمو کې(افغانستان کې) چې په نړۍ کې تر ټولو مرګونې سیمه ده تایید لو درک کړي. له ۲۰۱۵ کال راهیسې ترلاسه شویو تجربو او ګډو بریاوو ته په پام سره، دغه پالیسی کولی شي د افغانستان د قانوني امنیت ښه والی څخه ملاتړ په خاطر، په اروپا کې د زیات شمېر افغان پناه غوښتونکو د مېشتېدو، خپلې خوښې پرته د ستنولو لړۍ تعلیق، د اقتصادي مشوقونو چمتو کول او د هغوی له نړیوالو حقونو څخه ملاتړ نه یوازې په ترکیه کې د کوربه ټولنو لپاره همدا راز ایران او پاکستان لپاره راونغاړي.

---

### د لیکوالانو په اړه

داکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله مندۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

### د پښتی انځور په اړه

د افغانستان ولسمشر اشرف غني او د ترکیې ولسمشر طیب اردوغان په کابل کې د ګډ مطبوعاتي کنفرانس نه مخکې د لاسلیک شویو سندونو تبادله، اکتوبر ۱۸ ، ۲۰۱٤. رویټرز / احمد مسعود

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریدریش ایبرت بنسټ له لیکلي مخکینۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.